# په حقيقت کې، هغه څه چې تاسو يې وايئ او بلنه ورته کوئ ډېر ښه به وي که تاسو موږ ته ووایاست چې آيا د هغه څه لپاره کفاره شته چې موږ کړي دي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی: دا چې ځينو مشرکانو زيات وژل کړي وو، زناګانې يې زياتې کړې وې، نو دوی محمد صلی الله علیه وسلم ته راغلل، او وېې ویل: : په حقيقت کې، هغه څه چې تاسو يې وايئ او بلنه ورته کوئ ډېر ښه به وي که تاسو موږ ته ووایاست چې آيا د هغه څه لپاره کفاره شته چې موږ کړي دي نو دا آيت نازل شو {وَالَّذِينَ لا يَدْعُونَ مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ وَلا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلا بِالْحَقِّ وَلا يَزْنُونَ} [الفرقان: 68] - (يعني او د رحمن ذات بنده ګان هغه دي) چې له الله سره بل معبود نه بلي او هغه نفس چې الله حرام کړی وي؛ ناحقه نه قتلوي او زنا نه کوي) (نو دوی ته به د لوړو ماڼیو بدله ورکړلی شي) او دا آيت نازل شو: {قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللهِ} [الزمر: 53]. ته (دوی) ته ووايه: اې زما هغو بنده ګانو چې په خپلو ځانونو يې زياتی کړی دی! تاسو د الله له رحمت نه مه نا امېده کېږئ، [الزمر: ۵۳
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له مشرکانو څخه ځينې خلک راغلل، پداسې حال کې چې زيات قتلونه او زناګانې يې کړې وې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته يې وويل: هغه څه چې ته ورته له اسلامي لارښوونو څخه بلنه ورکوې ښه کار دی، خو د هغه شرک او لويو ګناهونو له امله به زموږ برخليک څنګه شي چې موږ پکې لوېدلي يو، نو آيا (زموږ لپاره) کومه بخښنه شته؟ نو دا دوه آيتونه نازل شول: چې الله تعالی يې په ترڅ کې د هغو خلکو توبه قبوله کړه، سره لدې چې زيات او لوی ګناهونه يې کړې وو، او که داسې نه وای شوي نو په خپل کفر او سرکش کې به وړاندې تللي وو او هېڅکله به پدې دين کې نه وو داخل شوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65071